سم ادرس

کندهار کی دربدره یو فقیر وو
دروازې ته دهرچا ولاړ زهیر وو

د اختر پهورځ سهار چی خوشحالی وه
حلال کړې ډیرو خلکو قربانی وه

غوښی ډیرې په کوڅه کی تیریدې
خپل خپلوانو ته دهرچا وړل کیدې

پر بډای وو د بډای نظر خیرات کی
د غریب کاسه وه تشه دغه سات کی

هغه چا ته ډیر خیرات به وو روان
چی له ها به یې هم طمع وه دا شان

په خیرات کی د غریب ونډه دریمه
اوس یې برخه رسیدلی وه لسمه

د بډای په مال کی حق د خوار معلوم
اوس یې حق داسی ګڼه لکه معدوم

لکه سیند پر غاړه ګرځی چی څوک تږی
دلته هم اوس هر غریب ګوري دی وږی

سوه غرمه له قربانیو خلک خلاص سول
خیراتونه هری خواته لاس په لاس سول

برخه کمه لویه سرکی د خوارانو
که بیا وه نو هغه یووړه چالاکانو

فقیر پاته سو بې برخی په اختر کی
هیڅ رانغلی د بډای چا په نظر کی

وو سپین ږیری پر لکړه یې تکیه وه
وو پریشانه او ستومانه یې څهره وه

سو ناهیلی او له خلکو یې شکوه وه
اوس یوازې خپل وخدای ته یې اسره وه

ول وکور ته د هرچا ودریدمه
پر درګاه د هر ناکس و سولیدمه

و هرچاته می کړې د طمع سترګې
کشکی سترګو کی می تللی تیرې جرګی

و هرچاته کوږ مغزی ولاړ په ورکي
د مغزی پر دړه غوزار وای لا په سر کی

نا امیده سوم له خلکو، له کورو یې
ترحم ده کړه کړې اوس له زړو یې

ولاړ جومات ته نا امیده په زړه مات
د امید سترګې یی و یکی یوه ذات

دجومات ځنځیر یې وواهه په زوره
ول الله ! راغلی تاته یم مختوره

له مخلوق دی نا امید یمه راغلی
په امید یم اوس وتاته دریدلی

بیله ستا دراوس بل ندی راته پاته
دی در پاته دا مختوری اوس وتاته

په ژړا ولاړ په ورکی د جومات وو
له مخلوقه نا امیده، په زړه مات وو

یو لاروي ږغ کړ پر ها بوډا فقیر
جومات قلف دی خوشی څه وهې ځنځیر

سره غرمه ده ملا نسته طالبان هم
ټوله تللی خیراتو ته او چړیان هم

دا جومات دی، د خان کور ندی نیکبخته
سربداله ګیچ ولاړ، بې ځای، بې وخته

ول پوهیږم دا جومات دی پکی نسته انسانان
خو ها سته چی بې جوړ کړی دا جهان

ول پوهیږم دلته نسته خیراتونه
خو ها سته چی یې په لاس کی نعمتونه

ول پوهیږم دلته نسته مال دولت
خو ها سته چی ورکوي چاته عزت

ږغ می اوري، د ځنځیر ږغ ورته رسی
لاس می وینی، کچکول وینی، هرڅه کسی

زه به ژاړم په دې درکی تر هغو
چی می ساه وي له بدنه په وتو

هاچی نوروتې ورکړې، ماته نده
په همدې کی به حکمت وی ماته ښه ده

اوس قانع یم، ټول تسلیم دده رضاته
اوس که ښه یم او که بد تسلیم قضا ته

اوس مجبور یم بلهلار نده راپاته
نه می مخته لار د تلو سته نه وشاته

ها ولاړ وو د جومات ځنځیر په لاس
په قسمت خپل وو قانع بیله وسواس

په اخلاص یی اوس ژړله و بادار ته
په خضوع په تضرع و کردګار ته

د فقیر پر اوږه لاس سو نا ببره
له هیبته وا بلا سوه پر رابره

ول پاچا د ملک یې غوښتی ژر کوه
هغه تاته انتظار دی چی راځه

ده ول نه ځم کار می نسته له شاهانو
کلی نسی د شاهانو او خوارانو

ما غریب ته چی خیرات ورنکړ چا
د اختر په ورځ نظر نشو پرما

نو پاچا به څنګه ما غواړي نیکبخته
پریږده دلته وي ولاړ دغه بدبخته

شا ته ګوري چی پاچا دی سپور پر آس
د شاهی جامه په تن خول یې له پاس

د اختر په خوشحالی ویشي ډالی
و رعیت ته ورکوي مبارکی

پاچا ورکړلی طلاوې په متانو
د فقیر تر تصور هم ډیر یارانو

فقیر اوس په شکر کښو سو چی باداره
ستا له دره چاره نسته زموږ ناچاره

خزانی دی ستا په لاس کی بیمقداره
هر دارا دی ستا دربار کی لوی ناداره

ول غلطو دروازو ته به ولاړوم
شرمیدلی، زوکلیدلی شوړ و شاړوم

نور به تاته یم ولاړ له تا بې غواړم
ستا د رحم امیدوار تاته به ژاړم

که عزت دی ټول له تا دی، که خوښی ده ټول له تا
ښه و بد ټوله له تا دي، او هستی نیستی له تا